# دTBCبلنه



**What We Teach Our Children**, 2008 *Christi Belcourt*

د ټورنټو زېږنتون مرکز يو ځانګړی ځای دی، چېرته چې اميندوارې ښځې د قابلو د پوره پاملرنې سره کولی شي اولاد وزيږوي، نوموړی مرکز د ټولنې د اصلي غړو له خواه په مخ وړل کيږي.

د خلکو، کورنيو، او ټولنو لپاره زمونږ موخه دا ده چې دوی کلتوري بډاې کېدلو او کلتوري خوندي زيږون پاملرنې ته لاس رسی پيدا کړلی شي، چې په بيا پيدا کېدلو او د لومړني ملتونه ميتايس او اينيوت قومونو د کلتور او پوهې په مراسمو کې لرغونتوب لري.

د اصيلو قابلو، ټولنې غړو او د TBC کارمندانو په توګه مونږ خپل ژوند ته په خپل طريقه دوام ورکو، خپلې پوهې او طريقو ته مو پرختيا ورکو او بېرته يې را ژوندي کوو ترڅو د تحميل شويو او استعماري سيستمونو او بې عدالتي پر وړاندې له خپل ځان او ټولنې څخه دفاع او پاملرنه ورته وکړلی شو. مونږ پوهيږو چې ښاېې نورې ټولنې هم شتون ولري چې د ورته سيستم له حملې سره مخامخ شوې وي کوم چې زمونږ په خاوره کې موجود دی. مونږ باوري يو چې زمونږ ګډې موخې او فعاليتونه کولی شي چې زمونږ قوت د ټوليز عدالت لپاره پياوړی کړي. مونږ په TBC کې شراکت ته لومړيتوب ورکو په ځانګړې توګه له نورو ټولنو سره ګډ کار ته ځکه چې په دې توګه کولی شو چې د بی عدالتی سيستم تاثيرات په ګوته کړلی شو، ځکه چې مونږ ددې لپاره کار کړو چې کلتوري خونديتوب پياوړی کړلی شو.

TBC د لرغوني کلتور ادغام ته ژمنتيا لري کوم چې د لرغوني طريقو د زيږون په ځای کې ليدل، په خپل رقم پاتې کېدل، پوهېدل، ترسره کول او لمانځل. مونږ تاسو TBC ته رابلو چېرته چې به ستاسو کلتور ته درناوی کيږي، وياړ به پرې کيږي او ارزښت به ورکول کيږي. دا د هرچا لپاره د غوره روغتيا او هوساينې ترلاسه کولو لپاره زمونږ هدف دی.

Pashtu

TORONTO BIRTH CENTRE